## شالید

# د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیتی سپارښتنی د افغانستان د حکومتی ادارو او نړیوالی ټولنی له خوا تریوی کچی پلی شویدی، خو د فساد سره د مبارزی لپاره لا ډیر نور کارته اړتیا ده.

***د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه (MEC) په دې موخه جوړه شوې ترڅو به افغانستان کې د اداري فساد پر وړاندې ملي او نړیوالی هڅې په خپلواکه توګه وڅاري.***

- د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې د اداري فساد په اړه یو لړ سپارښتنې او بنچمارکونه طرح کړی او ورڅخه څارنه کوی تر څو ډاډ تر لاسه شي چې هغوی په اغیزمنه توګه پلي شی.

- د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه په هرو شپږو میاشتو کې خلکو، ملي شورا، ولسمشر، او نړیوالې ټولنې ته رپوټ ورکوي.

***د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې تر اوسه پوری د اداري فساد پروړاندی ۷۴ سپارښتنې وړاندی کړی او څارلی دی ترڅو د اداري فساد په اړه د عدلي سکتور غبرګون پیاوړی او په همدې توګه د نورو ساحو ترڅنګ د پرمختیایی پروژو په اړه د حساب ورکونې چاره سمون و مومي.***

- د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې تر دې دمه د حکومتداری، د اداري فساد د مخنیوي او د قانون د پلی کیدو په اړه ۷۴ سپارښتنې وړاندی کړې دي چې ملی او نړیوالی اداری ترخپل تاثیر لاندی راولی.
- د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډې کمیټې د څارنې او ارزونی وروستۍ پایلې څرګندوي چې د ګډې کمیټې ۷۸ سلنه سپارښتنی یانی ۲۰سلنه په بشپړه توګه، ۵۸سلنه سپارښتنی تر یوه بریده یا په قسمي توګه پلی شوی او پاتې ۲۲ سلنه سپارښتنی له سره پلې شوې نه دي.

***په ټولیزه توګه د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډې کمیټې سپارښتنو ته د افغانستان دولت ځواب ویلی دی.***

- د هغو وزارتونو په ډله کې چی تر ټولو ډېر ځواب ورکونکي وو د کانونو وزارت د یادولو وړ دی چې په دې وروستیو کې یی په افغانستان کې د کانونو په اړه د ترل شوو تړونونو ډېری برخه یی خپره کړې ده او د راتلونکو تړونونو په اړه په خبرو کې د مرستې لپاره یی یو شمیر تجربه لرونکي قانون پوهان په کار ګمارلی.
- په دې سربیره د مالیې وزارت په دې اړه ډېرې هڅې په کار اچولې دي ترڅو د پرمختیایی مرستو په اړه د حساب ورکونې چاره غښتلې شي.

***د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه په ګډو هڅو کې د همغږۍ د نشتوالي او د ځنې نړیوالو مؤسیسو لخوا د نه همکارۍ په ګډون، په ډېرو مهمو برخو کې کوم پرمختګ نه ترسترګو کیږي***

- عدلي سکتور او د اداري فساد پر وړاندې د څارنې عالي اداره لکه د نورو هغه دولتي ادارو په څیر چې په ځنو برخو کې یی بریالیتوبونه درلودل، د بریالیتوبونو شاهد نه وو. د افغانستان د لوی څارنوالۍ هغه نوښتونه چې د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی ګډې کمیټې په سپارښتنو او بنچمارکونو کې په ګوته شوي وو، لمړیتوب نه دی ورکړی او له همدې امله د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډې کمیټې یو ګڼ شمیر سپارښتنې چې د حکومتی ادارو د همغږۍ او د عامه خلکو د پوهاوي د کچې د لوړولو په اړه وی، له سره پلې شوې نه دي.
- نړیوالې ټولنې هم د مالیې له وزارت سره د خپلو پرمختیایی پروژو او په همدې توګه له مالیاتو څخه د معافیت لرونکو هغو مالونو د تصدیقولو په اړه چې د پوځي هوکړلیک سره سم هیواد ته واردېږي، بیعلاقه والی څرګند کړیدی.

- د بریالیتوب په لاره کې تر ټولو ستر خنډ د سیاسي ارادې نشتوالی او په څنې اجرایی ادارو او نړیوالې ټولني کې د اړونده چارو د لمړیتوبونو نه ټاکل وو. د نه بریالیتوب په نورو لاملونو کې د سپارښتنو په هکله نه پوهاوی او د هغو د پلي کولو لپاره د اړیني وړتیا نشتوالی د یادولو وړ ګڼل کیږي.

***د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټي د ریوټ ورکولو په وروستي پړاو کې هم د پام وړ لاسته راوړنې لرلي دی.***

- د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټي د ۱۳۹۱ کال د لیندی په میاشت کې د کابل بانک د کړکیچ په اړه یوه عامه پلټنه تر سره کړه چې د هغو په ترڅ کې ګڼ شمیر مرکې او مستند شواهد تر غور او څیړنی لاندې ونیول او خپل ریوټ یې خپور کړ. په اړونده ریوټ کې ۴۸ سپارښتنې شاملې دي چې یو شمیر حکومتی ادارو ته متوجې دي.
- د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټي د ولسمشر په ۴۵ مه ګڼه فرمان کې د اداري فساد پوری اړوند ۳۸ مادې وڅارلې. کمیته به په دې اړه خپلې ارزونې په راتلونکو څو ورځو کې خپرې کړي.
- د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټي د اداري فساد د ارزونې په اړه ګڼ شمیر د زیانمنني برخې په ګوته کړې او د راستنیدونکو مهاجرینو لپاره د څمکې د وېش؛ د لوړو زده کړو په مؤسیسو کې د آزموینې د بهیر او فارغانو ته د تصدیق لیکونو د وېشلو په برخه کې یې د ریوټ خاکه بشپړه کړې ده.

***په همدې توګه د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټي د سپارښتنو پنځمه ټولګه چې په هغو کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه ۳۶ نوې سپارښتنې شاملې دي، د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې ته خپره کړه.***

- د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټي د خپل وروستي رسمی سفر په ترڅ کې ۳۶ نوی سپارښتني او بنچمارکونه د اداري فساد سره د مبارزې په اړه د کورنیو او نړیوالو ادارو په ګرنلارو کې د شته تشو په اړه وضع کړی دي.

- په ځانګړې توګه، د سپارښتنو موخه دا ده چې د مرستو د اغیزمنتیا کچه لوړه شي، د بخښنې مخنیوی وشي، په ټولټاکنو کې روڼتیا ډاډمنه شي، په بنسټیزو پروژو کې د اداري فساد له پیښو مخنیوی وشي او د څمکې د غصب پر وړاندې کړنې سرته ورسیږی.

- دا سپارښتنې د پراخه څیړنو او سلاګانو پر بنسټ د ټاکلو ستونزو او د ګرنلارو د موخو په اړه تر سره شوي دي. د سپارښتنو د پنځمې ټولګې د طرح کولو په ترڅ کې د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټي د افغانستان د حکومتی ادارو ، نړیوالې ټولنې، مدني ټولنې او پوهانو سره کتنې سرته رسولی.

- **د لا ډیرو معلوماتو لپاره د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټي سره په اړیکه کې شئ.**
  **د اړیکې شمیره** ۰۰۹۳۷۹۰۶۶۰۴۳۲ contact@mec.af
  www.mec.af